# دوهم څپرکی



## هایدروکاربونونه

پـه لومړي څپرکي کې مـو د عضوي مرکبونو په هکله معلومات تر لاسـه کـړل، په دې څپرکي کـې د هایدروکاربونو په هکله چـې عضوي مرکبونه دي، معلومـات ترلاسـه کوو، پترولیـم، طبیعي غاز او داسـې نور عضوي مواد دي چې د هایدرو کاربنونو د مخلوطونو څخه جوړ شـوي دي نوځکه هایدروکاربنونـو تـه د پترولیم (اومه نفت) د صنعت نسـبت ورکول کېږي. همدارنگـه ځینـې له دغو مرکبونـو څخه په لابراتوارونو کـې په مصنوعي ډول هـم جوړيـږي، هایدروکاربونونه عضوي مرکبونـه دي چې د کاربن او هایدروجن څخه د اشتراکي اړیکو په جوړولو منځ ته راغلي دي.

پـه دې څپرکـي کې به تاسـې زده کړئ چـې هایدروکاربنونه کـوم مرکبونه دي؟ او څـه ډول سـاختماني فورمولونه لري؟نوم ایښـودنه یې څرنگه ده؟ ایزومیرونه څه شــي دي؟ څرنگه به د هایدروکاربنونو په اهمیت په ورځیني ژوند کې پوه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لانــدې ونيــول شــي، له هغــه څخــه اروماتيــک هايدروکاربنونه؛ لکــه: تولوين، بنزين، نفتالين او انتراسين لاس ته راځي.




(۱۸-۲) شکل اسپرين


## بنزين

بنزين يوه بې رنګه زهري مايع ده چې مخصوص بوی لري، په $80^{o}C$ کې په ايشيدو راځي او په عضوي محللو؛ لکه: ايتر، الکول، اسـيتون او اسـتيک اسـيد کې په ښــه توګه حل کېږي. همدارنګه بنزين د عضوي مرکبونو لپاره يو ښــه محلل دی او د شحمياتو، ربړ، آيودين او سلفرو د حلولو لپاره په کارول کېږي.


بنزين د هوا د اکسيجن په شتون کې د کاربن د اتومونو د زياتوالي له کبله په ژېړ لوګی لرونکې لمبه سوځي:

$$2C_6H_6 + 15O_2 \longrightarrow 12CO_2 + 6H_2O + \text{(تودوخه)}$$


د بنزينو ځينو د مشتقاتو فورمولونه اونومونه په لاندې ډول دي.



بنزويئک اسيد



بنزالديهايد



فينول



(c) ketabton.com: The Digital Library

